رسول الله ﷺ به مونږ ته د استخارې دعا داسې ښوولە، لکه څنګه به يې چې مونږ ته د قرآن يو سورت ښووه

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي چې: رسول الله ﷺ به مونږ ته د استخارې دعا داسې ښوولە، لکه څنګه به يې چې مونږ ته د قرآن يو سورت ښووه، ويې فرمايل: کله چې ستاسو څخه يو څوک د کوم کار اراده ولري، نو له فرض لمانځه پرته دې دوه رکعته لمونځ وکړي، بيا دې دا دعا ووايي: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي، وَمَعَاشِي، وَعَاقِبَةِ أَمْرِي» أَوْ قَالَ: «عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ، فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي» أَوْ قَالَ: «فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ، فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي». «يا الله! زه ستا څخه ستا د علم له مخې د خير مشوره غواړم، او ستا د قدرت له مخې مرسته غواړم، او ستا د لوی فضل نه درڅخه سوال کوم، ځکه ته توان لرې او زه يې نه لرم، ته پوهيږې او زه نه پوهيږم، او ته په پټو چارو ښه پوه يې، يا الله! که ستا په علم کې وي چې دا کار (دلته به خپله غوښتنه وکړي) زما لپاره زما په دين، ژوند، او د کار په پايله کې (يا: زما په اوسني او راتلونکي حال) کې زما په خير وي، نو دا کار مې تقدير کړه، اسان يې کړه، او پکې برکت راکړه، او که ستا په علم کې دا وي چې دا کار زما لپاره زما په دين، ژوند، او د کار په پايله کې (يا: زما په اوسني او راتلونکي حال) کې بد دی، نو دا کار له ما څخه لرې کړه، او ما ترې لرې کړه، او هر چېرته چې خير وي، هغه مې تقدير کړه، بيا مې پرې خوښ کړه» ويې فرمايل: ««او د خپل حاجت يادونه دې وکړي».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

کله چې مسلمان وغواړي يو کار ترسره کړي چې د سم تصميم په اړه يقين نه لري، نو ورته مشروع ده چې د استخارې لمونځ وکړي، لکه څنګه چې نبي ﷺ خپلو اصحابو ته دا لمونځ داسې ښوده لکه څنګه به يې چې ورته د قرآن سورتونه ښودل، نو له فرض لمانځه پرته دې دوه رکعته وکړي، بيا دې د الله تعالى څخه دا دعا وغواړي: «اللهم إني أستخيرك» يعنې اى الله! په دوو کارونو کې درڅخه د هغه کار لپاره توفيق غواړم چې خير مې پکې وي، «بعلمك» يعنې ستا څخه ستا د پراخه او هر څه رانغاړونکي علم له مخې سوال کوم، «وأستقدرك» يعنې له تا غوښتنه کوم چې ځواک راکړې، ځکه زه پخپله بې وسه يم، «بقدرتك» يعنې ستا د پياوړي قدرت له مخې، ځکه ته له هېڅ شي عاجز نه يې، «وأسألك من فضلك» او ستا څخه ستا د پراخې مهربانۍ سوال کوم، ځکه ستا ورکړه ستا له خوا لورينه ده، او هېڅوک تاسره په هېڅ نعمت کې حقدار نه دی؛ «فإنك تقدر» يعنې ته پر هر څه توان لرې، او زه کمزورى عاجز يم «ولا أقدر» او ستا له ملاتړ پرته هېڅ ځواک نه لرم، او ته «تعلم» پوهيږې، په خپل هر اړخيز علم سره په ښکاره او پټ، ظاهر او باطن څيزونو باندې، «و أنا لا أعلم» او زه په هېڅ نه پوهيږم مګر ستا په توفيق او لارښوونه، «وأنت علام الغيوب» حال دا چې ته په پټو او ښکاره ټولو شيانو بشپړ عالم يې. يعنې ستا علم بې محدوديته دی، او ستا ځواک بې اغيزه نه دی، او نور يوازې هومره توان لري چې تا ورته ورکړی او اجازه دې ورته کړې ده. بيا مسلمان له خپل رب څخه سوال کوي او خپله اړتيا يادوي نو وايي: «يا الله» خپله چاره مې تاته سپارلې، نو که ستا په علم کې داسې وي چې دا چاره - د بيلګې په توګه کور پيرودل، يا د دې موټر اخيستل، يا د دې ښځې سره نکاح کول، يا داسې نور څه... نو که دا کار — چې زه پکې استخاره کوم — ستا په علم کې له پخوا معلوم وي چې زما لپاره پکې خير دی؛ زما په دين کې (چې د زما د چارو ساتنه ده)، او زما په دنياوي ژوند (معاش) کې، او زما د کار په پايله او عاقبت کې، يا يې داسې وويل چې: «زما په نږدې او راتلونکو چارو کې» په دنيا او آخرت کې؛ نو دا کار زما لپاره مقدر کړه، ماته يې تيار او بشپړ کړه، او راته يې آسان کړه، بيا پکې برکت واچوه او ما ته پکې خير زيات کړه، او که ته، اې الله، پوهيږې چې دا کار زما لپاره شر دی؛ زما په دين کې، زما په ژوند (معاش) او زما د چارو په پايله کې — يا يې داسې وويل: «په اوسنۍ يا وروسته چارو کې» — نو دا کار له ما څخه ليرې کړه او ما ترې ليرې کړه، او هر چېرته چې خير

وي، هغه زما لپاره مقدر کړه، بيا ما پرې راضي کړه، او ستا په هره پرېکړه، که زه خوښ يم يا ناخوښ، ما پرې راضي کړه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3293